# د نوؤ ایماندارانو د پاره ساده ربنتیا

(سوالونه او جوابونه)

دویم چاپ

ورژن ۰.۲

# مخکښی

د ډیرو کلونو نه، د خدای خلکو زیات سوالونه او جوابونه د نوؤ ایماندارانو سره د مدد دپاره هغه حقیقت کوم چی د هغوئ د پاره ضروري دي جوړ کړی او جواب کړي دي. دا کتاب به نوي نسل ته د غه مهم حقیقت ور وښایي څوک چی د مسیح په لار روان دي.

دا کتاب ۱۴۴ سوالونه او جوابونه لري. هر یو سوال ته ډیر زر جواب ورکړل شوی. هر یو جواب د کتاب مقدس نه ورکړل شوی. د کتاب مقدس د هر یو آیات د هغه د عنوان نه ډک دی، ( د مثال په ډول: پیدایښت). دا هغه د بابونو د مخی انتخاب شوی (د مثال په توګه دویم باب) . دا د آیات او یا آیاتونو د مخی ښودل شوی (د مثال په ډول درئم باب). نو، لکه د پیدایښت دوېم باب درېم آیات: پیدایښت ۲:۳ .

موفقه کونکی.
www.clearandsimplemedia.org

ددې کتاب د سایټ کاپي پیدا کولو دپاره دی ویب سایټ ته دننه شئ
www.asimpleword.org

ددي کتاب باره کی نورو معلوماتو او یا نورو کتابونو دپاره رابطه وکړئ.

www.clearandsimplemedia.org

ترجمه کونکی
www.christian-translation.com

**اوله برخه**

خدای او انسان

سوالونه ۱ نه تر ۲۶

دوېمه برخه

ګناه او قانون

سوالونه ۲۷ نه تر ۶۲

درېمه برخه

مسيح او نجات

سوالونه ۶۳ نه تر ۹۰

څلورمه برخه برخه

روح او کليسه

سوالونه ۹۱ نه تر ۱۱۷

پنځمه برخه

دعا او اميد

سوالونه ۱۱۸ نه تر ۱۴۴

# اوله برخه

# خدای او انسان

1.سوال: ته چا پيداکړی يئ؟

جواب: زه خدای پيدا کړی يم.

پيدايښت ;۱:۲۶-۲۷ پيدايښت ;۲:۷ اعمال ۱۷:۲۶

2. سوال: خدای نو څه پيدا کړی دی؟
جواب: خدای ټول شيان پيدا کړی.

پيدايښت ;۱:۳۱ زبور ;۳۳:۶-۹ کولوسيان ۱:۱۶-۱۷

3. سوال: خدای ته او ټول شيان ولې پيداکړل؟

جواب: خدای زه او ټول شيان د خپل خاص جلال دپاره پيداکړی.

زبور ;۱۹:۱ عيسايا ;۴۳:۷ ; ۱ورنتيان ۱۰:۳۱ .

4. سوال: ته خدای ته څنګه جلال ورکوی؟
جواب: زه خدای ته هله جلال ورکوم کله چی زه د هغه سره مينه اوپه هغه لاندې
يقين ولرم اوهم هغه څه کوم کوم چی هغه ما ته وايي.

متي ;۵:۱۶ يوحنا ;۱۴:۲۱ ۱يوحنا ۵:۳.

5. سوال: ته
خدای ولی خدای ته جلال ورکوې؟

جواب: ځکه زه هغه پيدا کړی يم او په ما خيال ساتی.

زبور ;۱۴۵:۹ ۱پطروس ;۵:۷ مکاشف ۴:۱۱

6. سوال: څو
خدايان موچود دی؟

جواب: خدای صرف یو دی.

تثنیه ۶:۴ عیسایا ۵: ۴۵; جریمایا ۱۰:۱۰

7. سوال: خدای په څو ډوله شکلونو باندې ظاهر شوی دی؟
جواب: خدای په درې ډوله شکلونو ظاهر شوی.
متي ;۳:۱۶-۱۷ یوحنا ;۵:۲۳ ایوحنا ۲۶:۱۵.
8. سوال: هغوئ کوم دی؟
جواب: پلار، زوی او روح القدوس.

متي ;۱۹:۲۸ ۲ کورنتیان ;۱۴:۱۳ ۱ پطروس ۲:۱.

9. سوال: خدای څه شئ دی؟
جواب: خدای روح دی او هغه د انسان په ډول بدن نه لری
یوحنا ;۲۴:۴ ۲کورنتیان ;۱۷:۳ اا تیموطیس ۱۷:۱.
10. سوال: آیا خدای د ابتدا تاریخ لری؟
جواب: نه، خدای همیشه موجود دی او موجود به وي.
خروج ;۱۴:۳ زبور ;۲:۹۰ عیسایا ۲۸:۴۰.
11. سوال: آیا خدای بدلیدلی شي؟
جواب: نه، خدای همیشه یو شان وي.
زبور ;۱۰۲:۲۶-۲۷ ملاکی;۶:۳ عبرانیان ۸:۱۳.
12. سوال: خدای چرته دی؟
جواب: خدای په هر ځای کی دی.

زبور ;۱۳۹:۷-۱۲ جریمایا ;۲۳:۲۳-۲۴ اعمال ۱۷:۲۷-۲۸

13. سوال: آیا ته خدای کتلی شې؟
جواب: نه، زه خدای نشم کتلیو خو هغه ما همیشه ګوري..
زبور۳۳:۱۳ متل ۵:۲۱ یوحنا ۱:۱۸ ;۱تیموطیس ۱:۱۷
14. سوال: آیا خدای د هر څه نه خبر دی؟
جواب: او، خدای په هر څه خبر دی. زه د خدای نه هیڅ یوڅه هم نشم پټولی.
۱ ساموېل۲:۳ متل ;۱۵:۳ افسیان ۱:۱۱
15. سوال: آیا خدای ټول شیان کوي؟
جواب: او، خدای ټول هغه پاک کارونه کوی کوم چی د هغه خوښه وي.
عیسایا۴۶:۹-۱۰ دانیال ;۴:۳۴-۳۵ افسیان ۱:۱۱

16. سوال: زه به څنګه پوهه اوخه ډول پوهه شم، چی په خدای یقین، مینه او آیمان ولرم؟

جواب: خدای مونږ ته ښودلی دي چی څنګه پوهه شو، یقین ولرو، هغه سره مینه او د هغه تابعداری وکړو، هغه مونږ ته دا ټول په کتاب مقدس کی ښودلی.

زبور۱۱۹:۱۰۴-۱۰۵ یوحنا ۲۰:۳۰-۳۱ ۲;تیموطیس ۱۵:۳

17. سوال: کتاب مقدس تاسو ته څه ښایئ؟

جواب: خدای مونږ ته د خدای او د هغه د ارادی په حقله حقیقت کوم چی د عیسی مسیح په زریعه ددنیا بچ کیدل دي.او همدا شان دا ما ته زما باره کی حقیقت راښايي.

زبور۱۱۹:۱۵۹-۱۶۰ یوحنا ۱۷:۱۷ ۲;تیموطیس ۱۴:۳-۱۷

18. سوال: د کتاب مقدس لیکوال څوک دی؟

جواب: هغو سړیانو چا ته چی د روج القدوس نه رهنمايي شوی وه.

۲ پطروس۱:۲۰-۲۱ ; پطروس۳:۱۵-۱۶

19. سوال: زمونږ لومړنی مور او پلار څوک دی؟

جواب: آدم او حوا.

پیدایښت۳:۲۰; تپیدایښت ۵:۱-۲

20. سوال: خدای زمونږ مور او پلار څنګه پیداکړل؟

جواب: خدای د آدم بدم د میدان د حاورو څخه جور کړ او خدای حوا د آدم د بدن نه جوړه کړه.

پیدایښت۲:۷; تپیدایښ۲:۲۱-۲۳ ; پیدایښت;۳:۱۹;زبور ۱۰۳:۱۴

21. سوال: آدم او حوا د نورو ټولو هغو شیانو نه کوم چی خدای پیداکړی وؤ څنګه ښکاریدل؟

جواب: خدای آدم او حوا په خپل شکل کی پیداکړو.

پیداییښت۱:۲۶-۲۷

22. سوال: مونږ د خدای شکل په آدم او حوا کی څنګه لیدلی شو؟

جواب: خدای هغوئ ته په ټولو شیانو باندې اختیار ورکړی. هغوئ ته معلومه وه چی څه رښتیا دي. هغوئ دې دپاره مینه کوله چی څه صحیح دي. هغوئ د ښایسته شیانو نه خوند اخستلو. هغوئ به خدای رضا کولو. هغوئ دواړو به خدای سره خبری کولی.

پیدایښت۱:۲۶-۲۷; تپیداییښت۲:۷-۹ ;زبور ۱۴۷:۱۰-۱۱ فیلیپیان۴:۸;

23. سوال: خدای آدم او حوا ته د بدن نه علاوه نور څه ورکړی وؤ؟

جواب: خدای هغوی ته روح ورکړی و ددې وجی هغوئ به هیڅ
نه مړه کیږی.
پیداینبت۲:۷; تثنیه۶:۵ ; ایکلاسیت;۱۲:۷;متي ۱۶:۲۶

24. سوال: آیا ته د بدن سره سره روح هم لری؟
جواب: او، زه روح لرم کوم چی نه مړ ګیږی.
زکریا۱۲:۱; اعمال۹:۵۹ ; ۲کورنتیان۵:۸

25. کله چی خدای آدم او حوا جوړ کړل ځنګه ښکاریدل؟
جواب: خدای دوئ پاک او خوشحاله جوړ کړل. هغوئ د خدای سره په هغه باغ کی ااوسیدل کوم چی خدای په خپله هغوئ ته جوړ کړی و.
پیداینبت۱:۲۶-۲۸; تپیداییبنت۲:۱۵-۱۷ ; پیداینبت;۲:۲۵;زبور۸:۴-۸

26. خدای آدم او حوا ته کوم شرطونه اینبی وؤ؟
جواب: خدای هغوئ ته ویلی چی د هغه تابعداری او او په هغه یقین ولری.

پیداینبت;۲:۱۵-۱۷;زبور۸:۴-۸

# دویمه برخه
# ګناه او شریعت

27. سوال: یا آدم او حوا د خدای تابعداری کوله هغوئ پاک او خوشحاله پاتی شول؟
جواب: نهو هغوئ تابعداری ونکړه. هغوئ د خدای خلاف ګناه وکړه.
پیداینبت۳:۶-۸;

28. سوال: ګناه څه شی دی؟

جواب: ګناه هغه څه شی دی کله مونږ هغه څه کوؤ کوم چی خدای مونږ ته نه وايي او هغه څه وکړو د څه نه چی مونږ خدای منع کوي.
روميان۱:۳۲; يعقوب۲:۱۰-۱۱ ; يعقوب۱;۴:۱۷; يوحنا ۳ :۴

29. سوال: هره ګناه څه راوړي؟
جواب: هره يوه ګناه د خدای قهر او سزه منځ ته راوړي.
تثنيه۲۷:۲۶; ;روميان۱:۱۸ ; روميان۶;۲۳; ;افسيآن ۵:۶

30. سوال: زمونږ د لومړنيو مور او پلار ګناه څه وه؟
جواب: هغوئ هغه ميوه وخوړه د کومی د خوړلو چی خدای هغوئ منع کړی وؤ.
پيدايښت۲:۱۶-۱۷; تپيداييښت۳:۶

31. سوال: هغوئ چا ولمسول چی ګناه وکړی؟
جواب: شيطان حوا دوکه کړه او هغی هغه مېوه آدم ته ورکړه.
پيدايښت۳:۱-۵; يوحنا۸:۴۴ ; ۲کورنتيان۱۱;۳; مکاشفه۱۲;۹ ۴

32. سوال: دنيا کی څه پيښ شول کله چی زمونږ اونی مور او پلار ګناه وکړه؟
جواب: خدای ځمکه بی عزته کړه او په دنيا کی مرګ منځ ته راغلو لکه څنګه چی خدای مونږ ته د مخکی نه خبرداریَ راکړی و.
پيدايښت۲:۱۵-۱۷; پپيدايښت۳:۱۶-۱۷

33. سوال:کله چی زمونږ اونی مور او پلار ګناه وکړه هغوئ ته څه پيښ شول؟
جواب: خدای آدم او حوا د جنت نه وشړل، هغوئ بيا هيڅکله نه پاک او خوشخاله وؤ. هغوئ د ګناه ډکو نا پاکه، شرميدلی او يريدونکی وؤ
پيدايښت; ا ۳:۸-۱۳;۱۶-۱۹;۲۳

34. سوال: ځکه چی آدم ګناه وکړه، نو د هغه نه وروسته چی کومو خلکو ژوند کوؤ تخه پيښ شول؟
۱۵:۲۱-۲۲ جواب: هر څوک چی د آدم او حوا نه وروسته پيدا شول ګناه نه ډک وؤ.
زبور ۵۱:۵; روميان۵:۱۸-۱۹ ; ۱ کورنتيان

35. سوال: آيا خدای همدغه شان دنيا ذليله پرېښوده؟ آيا هغه خلک په خپلو ګناهونو کی ايسار کړل؟
جواب: نو، خدای د هغوئ د مدد دپاره لار انتخاب کړه. خدای هغوئ سره د مدد ګار د راليږلو وعده وکړه.
متي;۱:۲۱; يوحنا۳:۱۶-۱۷ ۱; يوحنا ۴:۱۴

36. سوال: لوظ څه شی دی؟
جواب: لوظ د دوه کسانو په منځ کی مضبوطه وعده.
37. سوال: خدای د اسرائلو د قوم سره کوم لوظ کړی و؟
جواب: خدای د ابراهیم سره وعده وکړه چی د هغه خاندان نه به یو لوی قبیله جوړوي. هغه د ابراهیم سره وعده وکړه چی د هغه په زریغه به ټولو قومونو ته برکت ورکړی. خدای موسی ته شریعت ورکړو. هغه غوښتل چی موسی سره وی ددې دپاره چی اسرائلو ته برکت ورکړی، هغه جا ته چی د هغه تابعداری کوي او د شریعت پسی روان شی کوم چی خدای هغوئ ته ورکړی. خدای د داود سره وعده وکړه چی د هغه د زامنو نه به یو بادشاه شی څوک چی به همیشه باړشاهی کوي. او خدای وعده وکړه چی یوه ورځ به هغه یو نوی لوظ کوي او هغه وعده وکړه چی هغه به د خلکو ګناهونه بخښی او د هغوئ زړونه بدلوي.
پیدایښت۱۲:۱-۳; پیدایښت۱۵ ; خروج۱;۲۴:۳-۷;
۲رساموېل۷:۱۶; ;جریمایا۳۱;۳۱=۳۴;

# لس حکمونه

38. سوال لس حکمونه کوم دي؟
جواب:لس حکمونه د خدای حکمونه دی کوم چی خدای موسی ته د اسرائلو دپاره ورکړی. خدای په خپله لس حکمونه په دوه تیږو باندی ولیکل.
خروج۳۱:۱۸; تثنیه۹:۱۰
39. سوال: هغه کوم حکمونه دي؟
جواب: د خپل خدای نه بیغیر د بل چا عبادت مه کوئ
د خپل ځانونو دپاره بتان مه جوړوئ او مه د هغوئ عبادت کوئ
د خپل خدای نوم په غطه ډول مه استعمالوئ
د سبت ورځ ورځ په یاد لری او پاکه یي وګڼئ.
د خپل پلار او مور عزت کوئ
هیڅ قتل مه کوئ
هیڅ زنا مه کوئ
غلا مه کوئ

خپل ګاونډی پسی دروغ مه وایئ.
کوم شئ چی ستاسو د ګناونډی دی د هغه خواهش مه کوئ
خروج۲۰:۱-۱۷;

40. سوال: اول حکم کوم دی؟

جواب: اولنی حکم دادی; د خپل خدای نه بیغیر د بل چا عبادت مه کوئ..

41. سوال: دوهم حکم کوم دی؟

جواب: دوهم حکم مړونړ دا ښايي چی د خپل ځانونو دپاره بتان مه جوړوئ او مه د هغوئ عبادت کوئ.

زبور۴۴:۲۰-۲۱; متي۴:۱۰; يمکاشفه۲۲:۸-۹;

42. سوال: دويم حکم مونږ ته څه دی؟

جواب: دوهم حکم مونږ ته دا راښايي چی د خپل ځانونو دپاره بتان مه جوړوئ او مه د هغوئ عبادت کوئ
خروج۲۰:۴-۶; تثنيه۵:۸-۱۰

43. سوال: دويم حکم مونږ ته کوم راښايئ؟

جواب: دويم حکم مونږ ته دا راښائئ چی د بتانو او مجسمو عبادت مه کوئ.
عيسايا۴۴:۱۰-۱۱; عيسايا۴۶:۵-۹ ; اعمال۱۷:۲۹;

44. سوال: دريم حکم څه دی؟

جواب: دريم حکم دادی د خپل خدای نوم په غلطه ډول مه استعمالوئ
خروج۲۰:۷; تثنيه۵:۱۱

45. سوال: دريم حکم مونږ ته څه راښايي؟

جواب: دريم حکم مونږ ته دا را زده کوی چی مونږ بايد د خدای نوم په هغه ډول استعمال نه کړو کوم چی د هغه عزت نه وي.
عيسايا۸:۱۳; زبور۱۳۸:۲ ; مکاشفه۱۵;۳-۴;

46. سوال: څلورم خکم کوم دی؟

جواب: څلورم حکم دادی چی د سبت ورځ ورځ په ياد لری او پاکه يي وګڼئ.
خروج۵:۱۲-۱۵; تثنيه۵۸:۱۳-۱۴

47. سوال: څلورم حکم مونږ ته څه را ښايي؟

جواب: څلورم حکم مونږ ته دا راښايي چی د خدای عزت په خپلو خوب، کارونو او عبادت کی وکړو.
خروج۱۶:۲۳; عيسايا۵۸:۱۳-۱۴

48. سوال: پنځم حکم کوم دی؟

جواب: پنځم حکم دادی چی د خپل پلار او مور عزت کوئ.
خروج۲۰:۱۲; تثنیه۵:۱۶

49. سوال: پنځم حکم مونږ ته څه راښايي؟
جواب: پنځم خکم مونږ ته دا راښايي چی چی د خپل مور او پلار سره مینه وکړی او د هغوئ تابعداری وکړئ.
متلوه ۱:۸; افسیان ۶:۱-۳ کوولوسیان ۳:۲۰

50. سوال: شپږم حکم کوم دی؟
جواب: شپږم حکم دادی چی هیڅ قتل مه کوئ
خروج۲۰:۱۳; تثنیه۵:۱۷-۱۴

51. سوال: شپږم حکم مونږ ته څه راښايي؟
جواب: شپږم خکم مونږ ته دا را ښايي چی د خلکو نه نفرت مه کوئ او د هغوئ ژوند په لاس کی مه اخلئ.
پیدایښت۹:۶; متي۵:۲۱-۲۲ ; تثنیه۱یوحنا ۳:۱۵

52. سوال: اوم حکم څه دی؟
جواب: اوم حکم دادی چی هیڅ زنا مه کوئ.
خروج۲۰:۱۴; تثنیه۵:۱۸-۱۴

53. سوال: اوم حکم مونږ ته څه را زده کوي؟
جواب: اوم حکم مونږ ته دا را زده کوي چی مونږ باید د هغه چا سره کور والی ونکړو څوک چی رمونږ کور والا او یا خاوند نه وي.
متي۵:۲۷-۲۸; افسیان ۵:۳-۴

54. سوال: اتم حکم کوم دی؟
جواب: اتکم حکم دا دی: چی غلا مه کوې
خروج۲۰ :۱۵; تثنیه۵:۱۹

55. سوال: اتم حکم مونږ ته څه راښايي؟
جواب: اتم حکم مونږ ته دا راښايي جی مونږ باید هغه شیان وا نخلو کوم چی د بل چا دی.
خروج۲۳:۴; متلونه۲۱:۶-۷; ;افسیان ۴:۲۸

56. سوال: نهم حکم کوم دی؟
جواب: نهم حکم دادی چی د خپل ګاونډی پسی دروغ مه وایئ
خروج۲۰:۱۶; تثنیه۵:۲۰

57. سوال: نهم حکم مونږ ته څه را ښايي؟

جواب: نهم حکم مونږ ته دا راښايي چې بايد صادقه او ريښتونی اوسئ.
زبور۱۵:۱-۳; متلونه ۱۲:۷ ۱; کورنتيان ۶:۱۳

58. سوال: لسم حکم کوم دی؟

جواب: لسم حکم دادی چی: کوم شئ چی ستاسو د ګناونډی دی د هغه خواهش مه کوئ
خروج۲۰:۱۷; تثنيه۵:۲۱

59. سوال: لسم حکم مونږ ته څه راښايي.

جواب: لسم حکم مونږ ته دا را ښايي چی هر څه مونږ سره دی بايد په هغو شکر وباسو.
فيليفيان;۴:۱۱; ۱تيموطيس۶:۶ ; عبرانيان۱۳:۵

60. سوال: آيا يهوديانو هغه شريعت چی د خدای د طرف نه موسی ورکړل شوی و تابعداری کوله؟

جواب: نه. هغوئ د خدای شريعت پريښودی او خدای هغوئ ته سزا ورکړه لکه څنګه چی خدای هغوئ ته د وړاندی نه خبرداری ورکړی و.
تثنيه ۹:۱۲; ازکائيل ۳۹:۲۳

61. سوال: آيا څوک د خدای حکم په هر ځای کی وساتي؟

جواب: آدم د خدای نافرماني وکړه. په هغه وخت کی هيڅ سړی هم نشو کولای چی خدای ټول حکمونه وساتي.
ايسکلاسيت۷:۲۰; روميان ۳:۲۳; يعقوب۲:۱۰

62. سوال: لسم حکمونه مونږ ته څه راښايي؟

جواب: لس حکمونه مونږ ته دا ښايي چی خدای مقدس او ښه دی دا مونږ ته ښايي چی څنګه د خدای او د خپل ګاونډی سره مينه وکړو. دا مونږ ته ښايي چی مونږ ګناه کار يو او د خدای تابعداری نه کوؤ. دا مونږ ته دا راښايي چی مونږ ته د نجات ورکونکی ضرورت دی.
ايسکلاسيت۱۲:۱۳; ۱تيموطيس۱:۸-۹ ;روميان۳:۲۰ ;اګلتيان۳:۱۹-۲۴;

## دريمه برخه
## مسيع او نجات

63. سوال: نجات ورکونکی څوک دی؟
جواب: د ګناه کارو یواځینی نجات ورکونکی عیسی مسیح دی.
لوقا۲:۱۱;; اعمال۴:۱۱-۱۲ ; ۱تیموطیس۱:۱۵
64. سوال: عیسی مسیڅ څوک دی؟
جواب: عیسی مسیح د خدای روحانی زوی دی.
یوحنا:۱,۱۴,۱۸; ; ;۱یوحنا ;۳:۱۶-۱۸ ګلتیان۴:۴ ;اکولوسیان۱:۱۵-۱۸;
عبرانیان۱:۱ -۳; ۱; یوحنا۵:۲۰
65. سوال: خدای ولی خپل زوی دنیا ته راولیږو؟
جواب: خدای ددی وجی خپل زوی دنیان ته راولیږو ځکه چی هغه زمونږ سره مینه کوله. هغه مونږ ته خپل زوی راولیږلو ځکه چی هغه فضل کونکی او رحم کونکی دی.
زبور ;۱۰۸:۸-۱۱یوحنا۱:۱۶-۱۷ ;رومیان۵:۷-۸ ;اافسیان ۲:۴-۵ ۱
یوحنا ۴:۹-۱۰
66. سوال: آیا عیسی مسیح په یو وخت هم خدای او هم انسان و؟
جواب: او، عیسی په مکمل ډول خدای او په مکمل ډول انسان و.
یوحنا::۱-۳,۱۴;; ;۱فیلیفیان ;۲:۵-۱۱ کولوسیان۲:۹ ;اعبرانیان۲:۱۴-۱۸;
67. سوال: عیسی مسیڅ یعنی نجات ورکونکی کوم کارونه کول؟
جواب: هغه په هر وخت کی د خدای تابعداری کول او هغه د دګناه کارو ګناهونه په غاړه اخستل.
رومیان:۸,۳-۴; ; ;۱فیلیفیان ;۲:۷-۸ عبرانیان۴:۴ ;عبرانیان ۹:۱۴-۱۵;
عبرانیان۱:۱ -۳; ۱; یوح
68. سوال: عیسی ولې مړ شو؟
جواب: عیسی د خدای غسه د مینځ نه پوره کله چی هغه د ګناه کارانو دپاره مړ شو.
مارقوس۲; ;۱۰:۴۵ کورنتیان ;۵:۱۹-۲۰ ګلتیان۳:۱۳
69. د خدای روحانی څنګه د ګناه کارانو په ځاي په عذاب شو.
جواب: عیسی، د خدای زوی په انسان بدل شو.
یوحنا ;۱:۱۴ګلتیان۴:۴,۵ ;اکولوسیان۲:۹
70. سوال: د خدای زوی څنګه په انسان بدل شو؟
جواب: هغه د روح القدوس په زریعه د یوې پېغلی مریم نه پیداشو.
عیسایا:۷:۱۴; ; ;متي۱:۱۸-۲۱
71. عیسی مسیح په ځمکه باندې څنګه ژوند لرلو؟

جواب: هغه سادهو د عزت نه ډک او پاک ژوند لرلو.
متي :۸: ۲۰ ; متي ;۱۱: ۲۸-۳۰ لوقا۴: ۱۸-۱۹ ;۲ا کورنتيان۸: ۹;
۲ کورنتيان۱۰: ۱;
72. سوال: آيا عيسى مسيح کله هم گناه کړی وه؟
جواب: نه. هغه پاک او خالص و.
يوحنا ۲;۸: ۲۹کورنتيان ;۵: ۲۱ عبرانيان۷: ۲۶ ;۱اپطروس ۲: ۲۱-۲۳
73. سوال: عيسى مسيح په کوم قسم مرگ مړ شو؟
جواب: مسيح په صليب باندې مړ شو.
لوقا;۲۳: ۳۳ گلتيان۳: ۱۳ ;فيليفيان۲: ۸
عبرانيان۱: ۱ -۳; سوال: آيا مسيح د مرگ نه وروسته په قبر کی پاتی شو؟
جواب: نه، مسيح په دريمه ورځ د مرگ نه را پاڅيدو.
متي;۲۸۵-۷ لوقا ;۲۴: ۵-۸ روميان۲: ۲۵ ۱;کورنتيان۱۵: ۳,۴-۱۸
74. سوال: خدای به څوک د خپلو گناهونو د انجام نه بچ کړی؟
جواب: خدای هغه خلک بچ کړی څوک چی د خپلو گناهونو نه را وگرځی او څوک چی په عيسى مسيځ ايمان لري.
مارقوس; ۱: ۱۴-۱۵ يوحنا ;۳: ۱۶-۱۸ اعمال۲۰: ۲۱
75. سوال: د بښنی څه مطلب دی؟
جواب: د بښنی مطلب دادی چی په خپلو گناهونو پښېمانی وښايي او د گناه نه را وگرځي ځکه چی دا خدای زوروي.
لوقا۲; ۱۹: ۸-۱۰ کورنتيان۷: ۹-۱۰ ۱;تسالونيکيان۱: ۹-۱۰
76. سوال: په مسيح باندی د ايمان او يقين لرلو نه څه مطلب دی؟
جواب: په مسيح باندی د يقين لرلو مطلب په هغه باندی ايمان لرل دي. مونږ صرف په هغه باندی ايمان لرو چی هغه به مونږ بچ کوي.
يوحنا۱ ;۱۴: ۶ تيموطيس۱ ; ۲: ۵يوحنا۵: ۱۱-۱۲
77. آيا ته په خپل طاقت سره توبه او په مسيح باندی ايمان راوړلی شئ؟
جواب: نه، ما ته د روح القدوس د مدد ضرورت دی.
جريمايا;۱۳; ۲۳ يوحنا ;۳: ۵-۶ يوحنا۶: ۴۴ ۱;کورنتيان۲: ۱۴
78. سوال: خلکو د مسيح باره حقيقت د کوم ځای نه اوريدلی وؤ؟
جواب: په کتاب مقدسو د ښه زيری باره کی کوم چی خدای ټولو خلکو دپاره وړادی کړی.
ماقوس: ۱: ۱ اعمال ;۵: ۷ روميان۱: ۱۶-۱۷
79. سوال: اوس عيسى يعنی نجات ورکونکی مونږ د پاره څنگه دی؟

جواب: عیسی مسیح زمونږ پیغمبر، مشر او بادشاه شو.
متي ۵۷:۱۳ یوحنا ;۳۷:۱۸ عبرانیان۱:۱-۳; عبرانیان۵:۵-۶ ;مکاشفات ۵:۱
80. سوال: عیسی مسیح څنګه پیغمبر کیدای شي؟
جواب:ځکه هغه مونږ دا دا وښودل چی خدای څوک دی او دا ښايي چی مونږ هغه څنګه رضا کړو.
تثنیه;۱۸:۱۸ یوحنا ;۱۸:۱ یوحنا۴:۲۵-۲۶ ;اعمال ۲۲:۳ ۱;یوحنا۵:۲۰
81. سوال: مونږ ته د عیسی د پیغمبر په شان قبلولو ته څه ضرورت دی؟
جواب: ځکه مونږ خپلو ګناهونو نه جټه او شرمیدلی شو.
متي;۱۱:۲۵-۲۷ یوحنا۱۷:۲۵-۲۶ ۱;کورنتیان۲:۱۴-۱۶
82. سوال: عیسی مسیځ څنګه مشر یا پادری کیدای ي؟
جواب: هغه زمونږ په ځاي مړ شو او هغه خدای ته زمونږ په ځای خبری کوی.
زبور;۱۱۰:۴ عبرانیان ;۴:۱۴-۱۶ عبرانیان۷:۲۴-۲۵ ۱;یوحنا۲:۱-۲
83. سوال: مونږ ته د عیسی د مشرتوب پادری کیدو څه ضرورت دی؟
جواب: زمونږ ګناهونو مونږ ناپاکه او و شرمولو.
متل ; ۲۰:۹ ایکلاسیت ;۷:۲۰ عیسایا۵۳:۶ ;رومیان ۳:۱۰-۱۲;رومیان;۳:۲۳ یعقوب ۲:۱۰
84. سوال: عیسی مسیځ څنګه باشاه کیدای شي؟
جواب: هغه په مونږ باشاهي کوي ااو زمونږ دفاع کوي.
زبور ;۲:۶-۹ افسیان ;۱:۱۹-۲۳ مکاشفات ۱۵:۳-۴
85. سوال: مونږ د مسیح د باشاه کیدو څه ضرورت دی؟
جواب: څکه چی مونږ کمزوری یو او یریږو.
عبرانیان۲;۱۳:۵-۶ تیموطیس ۱:۱۲
86. سوال: مونږ کوم برکتونه حاصلولی شو کله چی مونږ مونږ په عیسی مسیح باندی ایمان راوړو؟
جواب: خدای زمونږ ګناهونه ببنی او هغه عواړی چی مونږ دی طادقان شو.
خدای مونږ خپلی کورنی ته د خپل بچیانو په شان راغواړی.
خدای زمونږ زړونه او رویه پاکوي.
رومیان;۵:۱۸ګلتیان ;۴:۸-۹ افسیان ;۱:۵ عبرانیان;۱۰:۱۰-۱۴ ۱;یوحنا۳:۲
خدای زمونږ بدن او روح د قبر د ښخیدو په وخت کی مکمل پاکوي.
87. سوال: آیا خدای ما ته ددي دپاره برکت راکړی زه د ښه اخلاقو لرونکی یم؟
جواب: نه، خدای ما ته دابرکتونه په خپل فضل سره راکړي. نه زه ددی حق دار یم او نه ما لاس ته راوړلی شول.

عیسایا ;۶:۴۶ افسیان ;۹-۸:۲ تیطوس ۷-۴:۳

88. سوال: آیا خدای به په رښتیا سره خپل برکتونه بندکړی څوک چي د زړه د اخلاصه توبه اوباسی او په هغه ایمان ولري؟

جواب: نو، عیسی به هیڅکله هغه خلک نه پریږدی څوک چی په هغه ایمان لري او بچ شی.

یوحنا ;۳۰-۲۷:۱۰ رومیان ;۳۹-۳۸:۸ فیلیفیان ;۱۶:۱ ۱ پطروس ۵-۳:۱

89. سوال: د خدای فضل څه دی؟

جواب: د خدای فضل نه مطلب د هغه مینه او مهرباني د کومې چی مونږ حق دار نه یو.

خروج ; ۶:۳۴ افسیان ;۸-۷:۸ ۱ کورنتیان ۹:۸

# څلورمه برخه
# روح او کلیسه

90. د خدای د هغو خلکو دپاره څه توقع ده څوک چی په عیسی مسیح باندی ایمان لری؟

جواب: هغه غواړی چی هغوی په زړونو او رویه کی پاک وي. هغه غواړی چی هغوئ د عیسی په شا شي.

افسیان ۱;۱:۴ پطروس ;۱:۵ ۲کورنتیان ۱:۷

91. سواب: خدای مونږ څنګه په زړونو او رویه کی پاکوي؟

جواب: خدای مونږ ته نوی زړه راکوي. او هغه مونږ ته روح القدوس راکوي.

عزکایل ;۲۶:۳۶ رومیان ;۱۴-۱:۸ ګلتیان ;۲۶-۲۲:۵ افسیان ۳۳:۱

92. سوال: رړح القدوس څه شی دی؟

جواب: روح القدوس خدای دی. خدای پلارو خدای زوی روح القدوس رالیږلی دی.

متي ;۱۹:۲۸ یوحنا ;۲۶:۱۴ یوحنا ;۲۶:۱۵ ۲ کورنتیان ۱۴:۱۳

93. سوال: اوس مونږ ته روح القدوس څه ډول دی؟

جواب: روح القدوس زمونږ دپاره یو تسلی ورکونکی او ملګری دی او د هغو خلکو دپاره یوه لاربښودنه ده څوک چی په عیسی ایمان لري.

یوحنا ;۱۷:۱۶ ,۱۲-۱۵ رومیان ;۱۴:۸-۱۶ ۱کورنتیان ;۱۹:۶ افسیان ۱۴:۱

94. سوال: زه به څنګه پوهه سم چی روح القدوس پاکوي؟

جواب: زه به د خپل نجات ورکونکی په شان شمو نو زه به په خپل زړه او خپله رویه کی د روح مېوه وګورم.
کولوسیان ;۱:۹-۱۲ افسیان ۱۶:۳

95. سوال: د روح مېوه څه ده؟
جواب: د روج مېوه مینه، خوشحالي، آمن، حوصله، ښه والی، آیمانداری،
ګلتیان ۵:۲۲-۲۳

96. سوال: آیا ته به تل کامیابي ولری که ته د عیسی تابعداری وکړی؟
جواب: نه، زه به بعضی وختونو مشکلاتو سره مخ کیږم.زه به بعضی وخت کی کړیږم او نفرت به را نه کیږی لکه ښنګه چی د مسیح شوی و.
یوحنا ۲ ;۱۵:۱۸-۱۹ تیموطیس ;۱۲:۳ رومیان ;۸:۲۳-۲۵ یعقوب ;۱:۲-۴ ۱ پطروس ۴:۱۲-۱۳

97. سوال: خدای به تا سره د مشکلاتو په وخت کی ښنګه مدد کوي؟
جواب: هغه ما ته د مرستی دپاره روح راکړی. هغه ما ته کلیسه راکړی چی د ما پالنه وکړی. هغه ما سره وعده کړی چی هغه به ټول شیان زما د فائدی او د خپل جلال دپاره کوي.
رومیان ;۵:۳-۵ رومیان ;۸:۱۸ ۱تسالونیکیان ;۳"۱۴-۱۵ ۱ پطروس۱;۴:۱۲-۱۹ .پطروس ۵:۱۰

98. سوال: عامه کلیسه کومه ده؟
جواب: عامه کلیسه د خدای د ټولو هغه نجات اختسونکو خلکو نه جوړه ده.
دا کلیسه دپلار یعنی د خدای کورنی ده. دا د مسیح یعنی د زوی بدن دی. دا هغه ځای دی چرته چی روح القدوس ژوند کوي.
۱کورنتیان; ۱۲:۲۷ افسیان ;۳:۱۴-۱۵ افسیان ;۵:۲۳ کولوسیان ;۱ :۲۴ عبرانیان ۲:۱۱

99. سوال: مکاني کلیسه کومه ده؟
جواب: دا یوه ډله خلک دی څوک چی په عیسی مسیع او د هغه په تعلیماتو ایمان لري. هغوئ په یو ځای سره د خدای عبادت کوي. هغوئ په یو ځای سره د کتاب مقدس کلام اوری او زده کوي. هغوئ یو د بل خیال ساتی او د هغوئ هم خیال ساتل کیږی.هغوئ په یو ځی سره دعا کوی او چی د خدای باشاهی وګوري. هغوئ ایماندارانو ته بپتسمه ورکوی او د عیسی په یاد کی ډوډی خوري.
متي ; ۲۸:۱۹-۲۰ اعمال ;۲:۴۱-۴۲ اعمال ;۸:۳۶-۳۹ رومیان ;۶:۱-۵ ۱ کورنتیان ;۱۱:۲۳ تیطوس۱:۱۵

100. سوال: آیا ته د مکاني کلیسه برخه جوړدلی شی؟

جواب: او، مکاني کلیسه یوه ډله ده کوم چې مونږ سره زمونږ د ایمان کی
د ډیروالی او په ځای پاتي کیدلو
کی مرسته کوي.نو د همدی وجی مونږ د عیسی نوی حکمونه زده کړی.
عبرانیان ۱۰:۲۴-۲۵

101. سوال: هغه کوم نوی حکم دی چې عیسی کلیسه ته ورکړی دی؟
جواب: عیسی وفرمائل، د یو بل سره مینه وکړی، لکه څنګه چې ما تاسو سره
مینه کړی ده.
یوحنا ۳۴:۱۳.

102. سوال: زمونږ نه څومره کسان دغه مینه یو بل ته ښایو؟

جواب: مونږ دا مینه هغه وخت ښکاره کوؤ، کله چې مونږ په یو بل مهربانه
شو، یو بل ته دعا کوؤ او یو بل ښښو.

مونږ دا مینه هله ښایو کله چې مونږ د یو بل عزت کوؤ، مدد کوؤ او یو بل
تشویقوؤ. مونږ دا مینه هله ښایو کله چې مونږ یو بل ته ربښتیا وایو او د هر چا
ضروریات خپل ضروریات کڼو.

رومیان ; ۱۰:۱۲ افسیآن ;۳۲:۴ اکولوسیان ;۱۳,۹:۳ ۱ تسالونیتیکیان ;۱۸:۴
یعقوب ۱۶:۵

103. سوال: بپتسمه څه شی دی؟
جواب: په بپتسمه کی د کلیسه مش سړی د څه وخت دپاره په اوبو کی غوټه کوی.
بیا سړی د اوبو نه باندی را اوباسی. هغوئ داکار د پلار، زوی او د روح القدوس
په نوم کوی.
متي ; ۱۶,۶:۳ مارقوس ;۵:۱ اعمال ۱۲:۸

104. سوال: څوک بپتسمه اخلي؟
جواب: بپتسمه د هر هغه چا د پاره ده څوک چې د خپلو ګناهونو توبه اوباسی او د
عیسی په نجات باندې یقین
لري.
اعمال ; ۳۸:۲-۳۹ اعمال ;۳۶:۸-۳۷ اعمال ۳۰:۱۶-۳۳

105. سوال: د بپتسمې څه معنی ده؟
جواب: بپستسماه د ایماندارانو د مسیح سره د یو والی نبنه ده څوک چې په
صلیب باندی زمونږ د ګناهونو دپاره مړ شو.
اعمال ;۳۰:۱۶-۳۳ رومیان ;۳:۶-۵ کولوسیان۱۱;۲۳-۲۹

106. سوال: عیسویان څنګه یو بل ته ورپه یادوي چې عیسی د هغه دپاره مړ شو؟

جواب: مونږ د فسحی ډوډۍ یو بل سره شریکوؤ.

مارقوس ;۱۴:۲۲-۲۴ ۱ کورنتیان ۱۱:۲۳-۲۹

107. سوال: د فسحی ډوډۍ څه شی ده؟

جواب: د فسحی ډوډۍ کی مونږ ډ،ډی خورو او اوبه څکو. مونږ دا ددې دپاره کوؤ چی د عیسی مړینه را په یاد کړو.

مارقوس ;۱۴:۲۲-۲۴ ۱ کورنتیان ۱۱:۲۳-۲۹

108. سوال: د ډوډې نه څه مطلب دی؟

جواب: د ماتې ډوډۍ نه مطلب د مسیح ټوټه ټوټه بدن دی. څوک چی په صلیب باندی زمونږ د ګناهونو دپاره مړ شو.

متي ;۲۶:۲۶ ۱ کورنتیان ;۱۱;۲۴

109. سوال: د پیالی نه څه مطلب دی؟

جواب: پیاله د مسیح د وینی باره کی خبری کوی. هغه یو ځل زمونږ د نجات دپاره خپله وینه توی کړی ده.

متي ;۲ ۶:۲۷-۲۸ ۱ کورنتیان ;۱۱;۲۵ عبرانیان ۹:۲۶-۲۸

110. سوال: د فسحی ډوډۍ باید څوک وخوري؟

د فسحی ډوډۍ د ټولو هغه خلکو د پاره ده څوک چی د خپلو ګناهونو نه توبه اوباسي. دا د هغه ټولو خلکو دپاره

۱ کورنتیان ;۱۰:۱۶-۱۷ ۱کورنتیان ۱۱:۱۸-۲۹

څوک چی مسیح د نجات لاره ګڼي.

111. سوال: بپتسمه او د خدای د فسیجی ډوډۍ څوک کلیسه ته ورکوي؟

جواب: رب، عیسی مسیح.

متي ; ۱۹:۲۸ متي ;۱۸:۲۸-۲۰

112. سوال:عیسی مسیح ولې بپتسمه ورکوي او ولی د کلیسه ته د فسحی ډوډۍ ورکوي؟

جواب: عیسی مسیح دا ځکه ورکوي چی هغه خپلو خلکو ته وښايي چی هغوئ د هغه خلک دي. دا عمل مونږ ته

متي ; ۱۹:۲۸ رومیان ;۶:۱-۵ ۱ کورنتیان ۱۱;۲۳-۲۶

ته دا را یادوي کوم چی عیسی زمونږ دپاره کړی وؤ.

113. سوال: د مسیح خپلی کلیسه ته اخرنی حکم کوم و؟

جواب: ما ته د اسمانونو او ځمکو ټول اختیار راکړل شوی. نو لاړ شئ

او په ټوله دنیا کی  مریدان جوړ کړئو
هغوئ ته د پلار، ځوی او روح القدوس به نوم بپتسمه ورکړئ. هغوئ ته هغه لاره وښايي د کومی چی ما تاسو ته حکم کړی دی.او تاسو ډاډه اوسئ چی زه هز وخت د تاسو سره یم او د اخره پورې به یم.
متي ۲۸:۱۸-۲۰

114. سوال:  د خدای ورځ کومه ده؟
جواب:  د خدای ورځ د هفتی اونۍ ورځ ده په کومه
چی ایمانداران رایو ځای کیږی او  عبادت کوي.
اعمال   ;۷:۲۰  ۱کورنتیان ;۲;۱۶  مکاشفات۱:۱۰

115. سوال: دې ته ولی د خدای ورځ وايي.
جواب: ځکه په همدغه ورځ مسیح د مرګ نه را پآسیدو.
متي  ; ۲۸:۱-۶ الوقا  ;۲۴ :۱-۶ یوحنا

116. سوال: زمونږ نه څرمره کسان د خدای ورځ لمانځي؟
جواب: مونږ د خدای ورځ په هغه وخت کی لمانځو کله جی مونږ مونږ د  خدای د خلکو سره د علادت دپاره را
ټولیږو او یو بل په خپل ایمان سره تشویقوؤ.
زبور ۴:۲۷ ;  رومیان   ;۱۲:۹-۱۳ کولوسیان ۳;۱۶

# پنځمه برخه
# دعا او امید

117. سوال: دعا څه شی دی؟
جواب: دعا مطلب دادی چی مونږ د خدای سره خبری کوی. مونږ د هغه لويۍ شکر اوباسو. مونږ د خپلو ګناهونو اعتراف کوؤ. مونږ هغه څه غواړو کوم چی خدای رضا کوي.

متي  ; ۶:۶ فیلیفیان  ;۶:۴ ۱۱یوحنا  ۱۴:۵

118. سوال: د چا په نوم باید دعا وشي؟
جواب: مونږ باید د عیسی په نوم دعا وکړو.

یوحنا  ; ۱۴:۱۳-۱۴ یوحنا  ۱۶:۲۳

119. سوال: مونږه کله او چرته دعا وکړو؟

جواب: مونږ خدای ته هر وخت او هر ځای کی دعا کولی شو.

متي ; ۶:۶ افسیآن ;۱۸:۶ ااعمال ;۲۱:۵ کولوسیان ۲:۴

120. سوال: مونږ ته عیسی د ددعا د رازده کولو دپاره څه راکړړی؟
جواب: عیسی مونږ ته د رب دعا راکړی.

متي ; ۶:۹-۱۵ الوقا ۱۱:۲-۴

121. سوال: د رب دعا څه ده؟
جواب: اي په اسمان کی زمونږ پلاره،
ستا نوم دی پاک وی
ستا بادشاهي دې راسی.
ستا مرضی دې په ځمکه پوره شي. لکه څنګه چی په آسمان کی.

مونږ ته د هری ورځی ډوډئ راکړه.

زمونږ ګناهونه وبښه

لکه څنګه چی مونږ خپل قصورواز بخښلی دی.

چا چی رمونږ په وړامدی ګناه کړی.

مونږ د ګناه کولو نه وساته او کله چی مونږ په ازمښت کی راګیر شو مونږ د شیطان د وسوسو نه په آمان وساته.

متي ۶:۹-۱۳

122. سوال: د خدای په دعا کی څومره غوښتنی دي؟
جواب: ټولې شپږ غوښتنی دی.
123. سوال: اولنئ غوښتنه څه ده؟
ستا نوم دې پاک وي.
متي ; ۶:۹ لوقا ۱۱:۲
124. سوال: مونږ په اولنئ غوښتنه کی څنګه دعا کوؤ؟
جواب: مونږ داسی دعا کوؤ چی ټول خلک د خدای د نوم لويي بيان کړی.

زبور ; ۸:۱-۲ زبور ;۷۲:۱۸-۱۹ زبور ۱۱۳:۱-۳

125. سوال: دویمه غوښتنه څه ده؟
جواب:ستا بادشاهي دې راشي.

متي ۶:۱۰ لوقا ۱۱:۲

126. سوال: مونږ په دویمه غوښتنه کی څه غواړو؟
جواب: مونږ دعا کوؤ چی ددنیا ټولو خلکو ته ښه خبر ورسیږی او په هغی ایمان راوړي. مونږ دعا کوؤ چی هغوئ به د عیسی تابعداری لکه د خدای په شان کوي.

یوحنا ; ۱۷:۲۰-۲۱ اعمال ;۱۲:۸ ااعمال ;۲۸:۳۰-۳۱ مکاشفات ۱۱:۱۵

127. سوال: دریمه غوښتنه څه ده؟
جواب: ستا مرضي دې په ځمکه پوره شي لکه څنګه چی په آسمان کی پوره کیږی.
متي ۶:۱۰

128. سوال: مونږ په دریمه دعا کی څه غواړو؟
جواب: مونږ دعا کوؤ چی خلک به په ځمکه هغه کارونه کوي کوم چی د خدای خوهش وي، لکه څنګه يي چی پرښتی په آسمان کی کوي.
زبور ;۱۰۳:۱۹-۲۲ زبور ۱۴۳:۱۰

129. سوال: څلورمه غوښتنه څه ده؟
جواب: مونږ ته د نن ورځې رزق راکړه.
متي ; ۶:۱۱لوقا ۱۱:۳

130. سوال: مونږ په څلورمی غوښتنی کی څه دپاره دعا کوؤ؟
جواب: مونږ دعا کوؤ چی خدای دې مونږ ته ټول هغه شیان راکړی کومو ته چی زمونږ د بدن ضرورت دی.

زبور ; ۱۴۵:۱۵-۱۶ متل ;۳۰:۸-۹ متي ۶:۳۱-۳۳

131. سوال: پنځمه غوښتنه څه ده؟
جواب: زمونږ قصورنه وبشه، لکه څنګه چی مونږ خپل قصور وار بخښلی دي.
متي ;۶:۱۲ لوقا ۱۱:۴

132. سوال: مونږ په پنځمه غوښتنه کی څه غواړو؟
جواب: مونږ دعا کوؤ چی خدای به زمونږ ګناهونه وبښی او دعا کوؤ چی خدای به مونږ سره د نورو خلکو په معافولو کی مدد کوي چا چی مونږ ته نقصان رسولی دی.

زبور ۵۱:۲-۳ متي ;۵:۲۳-۲۴ افسیان ۴:۳۲

133. سوال: شپېږمه غوښتنه څه ده؟

جواب: کله چې مونږ په آزمېښت کې يو نو مونږ د ګناه نه وساته. مونږ د شيطان نه په آمن کې کړه.

متي; ۱۳:۶ لوقا ۴:۱۱

134. سوال: مونږه په سپږمه غوښتنه کې څنګه دعا کوؤ.

جواب: مونږ دعا کوؤ چې خداى به مونږ د ګناهونو نه بچ کړی او د شيان نه به مو په آمن کړي.

زبور ;۱۱:۱۱۹ ۱کورنتيان ;۱۳:۱۰ ۲تيموطيس۱۸:۴

135. سوال: مونږ ته دعا څه راښايي؟

جواب: دعا مونږ ته دا راښآيي چې مونږ بايد په خداى باندې په پوره توکه يقين ولرو او د هغه نه مدد وغواړو.

مارقوس ; ۱۹:۱۶ اعمال ;۳۱:۵ روميان ۳۴:۸

136. سوال: اوس مسيح چرته دی؟

جواب: اوس مسيح په آسمان کې د پلار ښی لاس سره دی.

مارقوس ; ۱۹:۱۶۱اعمال ;۳۱:۵ روميان ۳۴:۸

137. سوال: آيا مسيح به بيا ځمکی ته راشي؟

جواب: او، هغه به راشي او د قيامت په ورځ به د ټولو خلکو عدالت کړی او هغه به هغه خلک بچ کړی څوک چې د هغه په انتظار کې دي

متي ۲; ۳۲-۳۱:۲۵ تيسالونيکيان ;۹-۷:۱ ۲تيموطيس ;۱:۴عبرانيان ۲۸:۹

138. سوال: کله چې صادقان مړه شی هغوئ سره څه پېيږي؟

جواب: کله چې صادقان مړه شي د هغوئ بدن په خاوره بدليږی او روح يي آسمان ته ځی چې خداى سره اوسيږی.

پيداېښت ;۱۹:۳ ايکلاسيت;۷:۱۲ ۲ کورنتيان ۸:۵

139. سوال: ګناه کارانو خلکو سره څه پېښيږي؟

جواب: د ګناه کارانو بدن په خاوره بدليږی او د هغوئ روح ډير تکليفونه زغمي. خداى هغوئ تر هغه وخته پورې داسی ساتی ترڅو چې د عدالت يا د قيامت ورځ نه وی راغلی.

لوقا;۲۴-۲۳-۱۶ يوحنا ;۲۹-۲۸:۵ ۲ پطروس ۹:۲

140. سوال: آيا مړی به بيرته را ژوندی شي؟

جواب: او، ټول مړی به راژوندي شي کله چی مسیح بیرته راشي.
دانیال ;۲:۱۲; یوحنا ;۵:۲۸-۲۹ اعمال ۲۴:۱۴-۱۵

141. سوال: ګناه کارانو سره به څه وشي ګله چی مسیح بیرته راشي او عدالت کوي؟
جواب: خدای به هغوئ ته په دوزخ کی کی سزا ورکوی او په داسی عذاب به وي کوم چی نه ختمېدونکی دی. هغوئ به د خدای د حضور نه د دتل دپاره وشړل شي.

متي ; ۲۵:۴۱,۴۶ مارقوس :۹:۴۷,۴۸ لوقا ;۱۲:۵لوقا ;۱۶:۲۳-۲۶ ۲ تیسالونیکیان ۱:۹

مکاشفات ۲۰:۱۲-۱۵

142. سوال: صادقانو سره به څه پېښ شي؟
جواب: صادقان به د خدای سره په خوشحالئ سره ژوند تیروي.
هغوئ به په نوی آسمان او نوی ځمکه باندی د تل دپاره ژوند کوي.

عیسایا ۲;۱۲:۱۰ پطروس ;۳:۱۳ مکاشفات ۲۱:۲-۴

143. سوال:نوی آسمان او نوي ځمکه به څنګه ښکاري؟
جواب: نوی آسمان او نوی ځمکه به د خدای په واک کی وي. مونږ به هیڅ ګناه نه کوؤ. مونږ به نه مرو. نور به هیڅ زوریدل نه وي. نور به هیڅ خفګان او درد نه وي. مونږ به نه ربړلی، ډاریږو او یا شرمیږو. مونږ به هغه خوشحالی پیژنو کومه چی د خدای نه راځي.

عبرانیان ; ۱۲:۲۲-۲۳ ایهودا ;۲۴ مکاشفات ; ۲۱:۱-۵مکاشفات ۲۲:۱-۴

# د لغاتونو مجموعه

| لغات | وضاحت |
|---|---|
| **پالنه** | پاأنه یو قانوني عمل دی کوم چی یو کس خپل کور ته راولي. |
| | دا کس د یو خپل ماشوم په شکل کی راوستل کیږي. |
| | مخکی مونږ د خدای په خلاف وؤ او د خدای دښمنان وؤ. |

خو اوس خدای مونږ ته خپل خاص بچي وايي.

**زنا** د هغه چا سره يو ځای ګيدل يا كور والی كول كوم چی ستا ښځه يا خاوند نه وي.

**پرښته** د خدای د طرف نه مزدور څوک چی د خدای پيغام رسوي. پ رښته روح دی. پرښته د خدای باره كی ښه خبری كوي. پرښته هغه څه كوی كوم چی خدای وغواړي. پرښته د هغو خلكو سره ښه كوي څوک چی د خدای په خاندان كی وي. بدی پرښتی د شيطان دپاره كار كوي.

**بپتسمه** د كليسه مشر سړی د څه وخت د پاره په اوبو كی ډوبوي. بيا يي د اوبو نه را اوباسي. نو د همدی وجی مونږ وايو چی مسيح مونږ پاک كړو. او مونږ هر چا ته دا ښايو چی مونږ د كليسه حصه يو. كله چی مونږ بپتسمه واخلو دا مونږ ته دا را يادوي چی عيسی څوک چی مړ شو او خلكو په قبر كی كيښودوو خو هغه بيرته د مرګ نه نه راجک شو.

**ايماندار** ايماندار هغه كس دی څوک چی عيسی پيژنی او په هغه ايمان لري.

**بركتونه** بركتونه ښه شيان دی چی خدای يي مونږ ته را كوي. كله چی مونږ وايو چی خدای دی مونږ ته بركت راكړي، مونږ د هغه نه مدد غواړو او هغه مونږ سره ښه كوي.

**حمل اخستل** هغه حالت په كوم كی چی ماشوم چوړيږی او ښځي په بدن كی نوی ژوندی كوي.

**راضي**د راضي كيدلو مطلب دادی په هغه څه خوشحاليدل كوم چی مونږ سره دي. او په

دی پوهیدل چی څه مونږ سره دي هغه کافي دی.

**کلیسه** کلیسه یوه ډله خلک دی څوک چی عیسی مسیح پسی راوان او په هغه ایمان لری. هغوئ یو بل سره ګوري. هغوئ ایماندارانو ته بپتسمه ورکوي. هغوئ د فسحی ډوډئ خوري. هغوی د مسیح د تعلیماتو احترام کوی.

**صلیب** صلیب د دوه توکړو لرګیو نه چوړ شوی دی. کله چی عیسی ژوندی و، کله به چی خکو ګناه کول نو هغوئ به ییه په صلیب باندی مړه کول. عیسی په صلیب باندی مړ شو.

**لعنت** دا یو ډیر مظبوط لفظ دی کوم چی چا ته نقصان یا سزه ورکوي.

**شیطان** دا د شیطان یو بل نوم دی، شیطان یوه ډیره بده پربښته ده.

**مرید** مرید هغه کس دی څوک چی د بل چا تابعداری کوی او یا د هغه نه زده کوي. هغه کس څوک چی په عیسی ایمان لري. هغه کس چا ته چی عیسی څه وایي هماغسی کوي.

**ابدي** هغه څه چی د همیشه دپاره وی او یا جاري وی هغه ته ابدي وایي. هغه څه کوم چی شروعات او حتمیدل نلری.

**ایمان** په یو شی او یا په یو چا باندی ایمان لرل. په خدای باندی یقین او ایمال لرل.پدی پوهیدل چی خدای حقیقی دی، حتی که څه هم مونږ هغه نشو کتلی.

**ببښنه** د ببښنی مطلب دادی چی مینه وښایو او هغه چا په خلاف هغه بد څیزونه هیر کړو . کله چی خدای مونږ ببښی، هغه ټول غلط کارونه چی مونږ کړی هیروي.

**جلال** د خدای جلال هر هغه څیزونه چی خدای یي ښکلی کړی، لکه د لوی بادشاه په شان.

**فضل** فضل د خدای د طرف نه یوه ډالی ده کومه چی مونږ
د خپلو غلطو کارونو د و جی نشو حاصلولی .
هغه ښښنه او مدد کوم چی د خدای نه راځي.

**زړه** زړه د انسان د بدن یو مهم غړی دی. د هغه غړی دی کوم
چی احستس کوی،سوچ کوي او فیصله کوی.

**آسمان** آسمان هغه ځای دی چرته چی خدای او مسیح دي.
هغه هلته اوسیږی او سلطنت کوي. آسمان هغه ځای دی
کوم خلک چی په ربښتیا سره خدای او عیسی پیژني
د مرګ نه روسته به هلته اوسیږي. دا هغه ځای دی چرته
به چی خلک همیشه خوشحاله او نه به په تکلیف کی وي.
نوی آسمان او نوی ځمکه د هغو راتلونکی کور دی
څوک چی خدای پیژني..

**دوذخ** دوذخ هغه ځای دی چرته چی خدای بدکاره د خپل ځان نه
لری کړي دی. دوذخ د بد کارانو د پاره د مرګ نه
وروسته ځای دی.

**مقدس** د مقدس کیدو مطلب د خدای دپاره یوه حصه.
د خدای په شان کیدل. د خدای په شان. کله چی مونږ
مقدس یو مونږ بې ګناه یو . مونږ د خدای په وړاندی پاک یو.
د خدای روح (وګورئ روح) عیسی لیږلی چی خلکو سره مدد وکړي.
روح القدوس د خدای بل نوم
نوم دی. او روح القدوس دی ته د خدای روح هم ویل کیږي.
د مسیح روح او هغه روح چی مونږ سره مدد کوي..
روح القدوس یو شخصیت دی، خو دا د انسان په شان نه دی لکه څنګه

چې مونږ یو. دا خدای، دا د خداي

یعنی پلار یا خدای یعنی زوی سره برابر دی.(تثلیث وگورئ) دې

په دنیا کی د خلکو تر منځه د خدای کار

کوي.˝هیڅوک روح القدوس نشی کتلیو خو دې په هغه چا کی

اوسیږی څوک چې عیسی پیژني.

**عزت** د یو چا عزت د هغه سره په ښه خبرو کي دی، د یو چا مخامخ

عمل کول ځکه چې ته د هغه عزت کوی او قدر ورکوی..

**د عزت وړتیا** ښه عمل کول. په داسی طریقی سره ژوند تېرول په کوم چې

خدای او خلکو ته احترام ښودل کیږي.

داسی انسان جوړیدل چې ښه او صحیح کارونه کوي.

**بت** بت یو داسی شی دی کوم چې د لرگی ،ا کانی

او یا مسو نه جوړ شوی وي. کوم چې خلک دعا کوي.هغوی

باید د خدای عبادت وکړي. بت د انسان تصویر او

یا بل څه د سره د خدای په ځای مینه کول دی . بت د

د دروغو خدای دی. یو څه چې د خدای نه زیاته مینه ور سره کیږی.

**اسرائیل** هغه ځمکه چرته چې یهودیان اوسیږي. د اسرائیل خلک د یهیدیانو

د پاره دویم نوم دی. هغوې د ابراهیم، اسحاق او یعقوب اولاده ده.

**یهودي** یهودی هغه کس دی څوک چې د ابراهیم، اسحاق او یعقوب

او د هغوئ د اودونو اولاده وي.

هغه کس چې هغه یهودي ایمان ولري.

**بادشاهي** بادشاهي هغه ته وایي چرته چې د بادشاه حکم چلیږي.

د خدای بادشاهي هغه ته چیرته چې د خدای حکم چلیږی.

**قانون** بادشاه خلکو باندی حکم چلوي چې باید څگه ژوند وکړي.

خدای موسی ته په اسرائیلو باندی د حکم چلولو حکم کړی و.

**رب** په کتاب مقدس کی رب د خدای بل نوم دی. ددي نه د
معلومیږی چی هغه په ټولو څیزونو اوچت او په ټولو
څیزونو واک او اختیار لري.دا هغه نوم دی کوم چی مونږ د عیسی دپاره عیسی دپاره
استعمالوؤ کله چی د هغه تابعداري کوؤ.

**پیغمبر** هغه څوک دی چا چی خلکو ته ته ویل چی خدای څه غواړي.
پیغمبرانو به پخوا د خدای باره کی خبری کولی.
هغوئ هغه څوک وؤ چی هغوئ به ویل چی آینده کی به څه پیښیږي.

**کامیابي** د کامیابۍ مطلب دادی چی د ښه شیانو نه خوند اخستل.
د کامیابۍ مطلب باید ښه صحتمنده او مالداره شو.
مونږ هغه وخت کامیابه یو کله چی خلک زمونږ باره کی
ښه خبری کوي. هغه وخت کامیابیدای شو کله چی د
بل چا د مهربانۍ نه خون اخلو.

**حاصلول** هغه څیز بیرته حاصلول کوم چی مونږ نه ورک شوی دی.
د یو شی د ځان ته حاصلولو دپاره د هغه قیمت ورکول.

**بیرته را ګرځیدل** د بیرته راګر ځیدو مطلب د ګناه نه راګرځیدل دی.
هغه څه کوم د کوم چی خدای زمونږ نه د کولو طمع لري. .
او یو داسی فیصله کول چی غلط کا. رونه به نه کوي کوم
چی مونږ مخکی کړی و.

**راپا څېدل** د راپاڅیدلو نه مطلب د مرګ بیرت را ژوندي کیدل. چی راشي
او بیرته ژوند وکړي.

**نېک عمله** د نېک عمله نه مطلب د خدای په وړاندی ښه والی.
نېک عمله هغه خلک دي څوک چی د خدای په وړاندې ښه

وي. هغه چی خدای څوک نېک عمله کړی، هغه ته هغه
انسان پاک ښکاري. نېک عمله سړی د خدای دوست
وي نه د خدای دښمن.

**سبت** سبت هغه ورځ ده په کومه ورځ چی خدای د تخلیق نه
وروسته آرام وکړو. سبت هغه ورځ وه په کومه چی
خدای یهودیانو ته ووئیل چی کا مه کوئ. دا د هغوئ دپاره یوه
خاصه ورځ وه په کومه کی چی هغوئ آرام او د
د خدای عبادت کولو.

**بچ/ نجات** نجات هغه ته وایي کله چی مونږ خدای د د ګناه د طاقت
او د هغه د انجام نه په آمن کی وساتي. د غلطو ]
څېزونو نه بچ کیدل او یا په آمن کی کیدل.

**شیطان** دا د پژري دپاره بل نوم دی.شیطان د ټولو نه
بد او خرابه پرښته ده. (پرښتی وګورئ).

**بچ کونکی** عیسی مسیح بچ کونکی دې چا چی مونږ واپس خدای ته راوړلو
او مونږ یي د هغی ګناه د سزا نه په آمن کی
کومه چی مونږ کړی وه.

**ګناه/ ګناه ګار** ګناه یو ډېر بد عمل دی چی خلک یي د خدای
او د نورو خلکو په خلاف کوي. کله چی مونږ د هغو اصولو
تابعداری ونه کړو کوم چی خدای جوړ کړی دیو نو مونږ ګناه کوؤ.
کله چی مونږ هغه څه ونه کړو ک/وم چی
یي زمونږ نه د کولو طمع لري، نوو مونږ ګناه کوؤ. ټول خلک ګناه ګار
دی ځکه هغوئ د خدای او د نورو خلکو
خلاف ګناه کوي. ټول خلک ګناه ګار دی ځکه چی هغوئ د بدو

خواهشاتو سره رالوی شوی دي.

**روح** روح زمونږ د بدن یوه برخه ده کوم چی مونږ یي په سترګو نشو لیدلی خو مونږ سره زمونږ په ژوند کی او زمونږ د مرګ نه وروسته اوسیږی. خدای آدم او حوا ته په هغه وخت کی روح ورکړ کله چی هغوئ د ژوند ساه واخستله. د انسان روج بعضی وختونو کی د انسان د روح په نوم هم یادیږی.(روح وګورئ)

**روح** روح هیڅ بدن نلری او څوک یي نشي لیدلی. خدای روح دی. خدای یو بل روح هم جوړ کړی پرښته وایي کوم چی مونږ نشو لیدلی، دی نه بعضی ښه دی او بعضی بدی دي. د انسان روح بعضی وختونو کی د انسان د سرې روح ویل کیږي.

**تثلیث** دا یوه کلیمه ده کومه چی د یو خدای دپاره کوم چی په درې شکلونو ښکاري: خدای پلا، خدای زوي (عیسی)، او روح القدوس.

**یقین** د یقین نه مطلب دادی چی د هغه چا تابعداری کول کوم چی ستا په نظر کی ښه ښکاري. چی ایمان ولري او په ایمان عمل کوي.

**پیغله** پیغله هغه کس دی چا چی هیڅ کوروالی نه وي کړی.

**عبادت** دا عبادت نه مطلب د خداي لویي بیاونول او مونږ د هغه سره زیاته مینه لرو. د هغه عبادت کول او د هغه ته عزت ورکول

.

موفقه کونکی.
www.clearandsimplemedia.org

ددې کتاب د ساېټ کاپي پیدا کولو دپاره دی ویب ساېټ ته دننه شئ
www.asimpleword.org

ددې کتاب باره کی نورو معلوماتو او یا نورو کتابونو دپاره رابطه وکړئ.

www.clearandsimplemedia.org

ترجمه کونکی
www.christian-translation.com